برتولت برشت

ژباړه: فرهاد ویاړ


14.10.09

## هر ځل همدا چې...

هر ځل همدا چې یو ستر کار پیلوو

چې ډک له اوږده کړاونو او رنځونه دی

یو تن زمونږ له ډلې ښخه ورکیږي

او بیا نه راستنیږي

....

هغوې ورته چک چکې کوي او نعرې وهي

هغه په لوکسو جامو کې رانغاړي

او د هغه سره په لویه تنخواه تړونونه لاسلیک کوي

....

او هغه یوځلي، بدلیږي

پر پخواني مسند لکه میلمه کیني

هغه نور د اوږده کار لپاره، وخت نلري

نور نو له هیڅ خبرې سره مخالفت نکوي

(ځکه چې دا هم وخت غواړي)

هغه، ښه خلق و خویي پیدا کوي

او طبعه یې ډیره نازکه کیږي

په خپلو لوکسو جامو تر ډیره وخته پورې خاندي

او په کراتو له دې غریږي چې:

«غواړي خپل اربابان وغولوي»

«هغوی ناولی موجودات دي»

خو، مونږ ښه پوهیږو چې نور

زمونږ په ډله کې به ډیر پاتی نشي

همدا دی چې زمونږ له ډلې ورکیږي

مونږ د خپل ستونزمن کار سره یواځې پریږدي

او په مرسوم طریقت باندې، ګام ږدي.